د حزب التحرير
ولایه افغانستان
مطبوعاتي دفتر

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿وَعَدَ اللَّهُ الَّذِينَ آمَنُوا مِنكُمْ وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَيَسْتَخْلِفَنَّهُمْ فِي الْأَرْضِ كَمَا اسْتَخْلَفَ الَّذِينَ مِن قَبْلِهِمْ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمْ دِينَهُمُ الَّذِي ارْتَضَىٰ لَهُمْ وَلَيُبَدِّلَنَّهُم مِّن بَعْدِ خَوْفِهِمْ أَمْنًا يَعْبُدُونَنِي لَا يُشْرِكُونَ بِي شَيْئًا وَمَن كَفَرَ بَعْدَ ذَٰلِكَ فَأُولَٰئِكَ هُمُ الْفَاسِقُونَ﴾

حزب التحرير
HIZB UT TAHRIR

سه‌شنبه ۲۶ رمضان، ۱۴۴۱هـ ۲۰۲۰/۰۵/۱۹م گڼه: ح.ت.افغ ۱۴۴۱/۱۴

مطبوعاتي اعلامیه

# ډیموکراسي او جمهوریت بیا هم رسوا او وشرمېدل

له ټاکنو او ټاکنیزو ناندریو اووه میاشتې وروسته دا لانجې د اشرف غني او عبدالله عبدالله ترمنځ د سیاسي هوکړې په لاسلیک او د مشارکتي حکومت په جوړولو سره ظاهراً ختمې شوې.

د دې هوکړې په اړه لاندې ټکي مهم او ارزښتناک دي:

لومړی: له پراخو لګښتونو او انساني مرګ ژوبلې وروسته ددې هوکړې لاسلیک کول دا مانا لري چې د ولسمشر په ټاکلو کې د خلکو رول او د رایې حق یو تش شعار دی چې په ډیموکراسی کې خلکو ته ورکول کېږي. په واقعیت کې په دغه نظام کې د خلکو رایه هېڅ ارزښت نه لري، که یې لرلی؛ نو د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۹ کلونو د ولسمشری ټاکنې به معاملو او رسوایی ته نه تللې. په واقعیت کې د هرې ورځې په تېرېدو سره ډیموکراسي، جمهوریت، ډیموکراتیکې ټاکنې او د لوېدیځ نور تپل شوي ارزښتونه په افغانستان کې رسوا کېږي او د پلي کولو پایله یې هم د لا زیاتې سیاسي بې اتفاقی او لاوروکی سبب ګرځي.

دویم: اشرف غني او عبدالله دواړه د افغانانو له خوا سخت رټل شوي او په خلکو کې ځای نه لري. له درغیلو ډکې ټاکنې او پکې د خلکو کم ګډون ددې واقعیت څرګندونه کوي. ددغو دواړو رهبرانو ټوله هڅه په قدرت کې د پاتې کېدو او د خپلو شخصي او ټیمي ګټو د خوندي کولو لپاره ده. دوی ارزښتونه نه لري او معامله ګر دي، چې له خلکو څخه واک ته د رسېدو او بیا د واک ساتنې لپاره د وسیلې په توګه کار اخلي او هغوی ته هېڅ ارزښت نه ورکوي. که په دوی کې یو هم د خلکو په رایو بریالی شوی وي، نو ولې د معاملې پر ځای د خلکو له رایو دفاع نه کوي؟ دا چاره ثابتوي چې ډیموکراسي یوازې یو ارزښت پېژني او هغه ګټه ده او بس.

دریم: اوسنی سیاسي هوکړه د ۲۰۱۴ کال د هوکړې په شان د امریکا او اروپا په فشارونو او ګواښونو ددغو دواړو رهبرانو له خوا لاسلیک شوه. امریکا په پیل کې په ټاکنو کې ناورین رامنځ ته کړ او بیا د منځګړې په توګه را مخ ته شوه او په فشار او ګواښ یې دواړه رهبران د واک وېش ته اړ ایستل. دا واقعیت په ښکاره ثابتوي چې امریکا په افغانستان کې یو باثباته حکومت نه غواړي، بلکې یو ماتېدونکي او مزدور حکومت ته ترجیح ورکوي، چې په ځو ډوله سیاسي لوبو کې ترې استفاده وکړي، په ځانګړې ډول هغه وخت چې له طالبانو سره بین الافغاني خبرې راتلونکی ګام ګڼل کېږي.

په پای کې به د افغانستان مسلمان او مجاهد ملت د ډیموکراتیکو ټاکنو له رسوایی عبرت اخیستی وي، چې غربي پروسې په افغانستان کې ناورین او سیاسي بې ثباتي رامنځ ته کوي. دغه راز د ثبات او سلامتی یوازینی لاره د اسلام پر سیاسي مفکورو او ارزښتونو منګولې لګول دي چې دا ناورینونه او لانجې ختمولی شي.

**د حزب‌التحریر - ولایه افغانستان مطبوعاتي دفتر**